محمد اسحاق بـرکـت
ویرجینیا ــ امـریکا

۲٦ دسمبر ۲۰۰۹

## ارمـانجن زړه

خلک به هـرڅه هـرڅه غـواړي خپل وطن د پـاره
زه د وطن بیا سمسورتیا ښکلي باغونـه غـــــواړم

خلک بـه هـر څه هـرڅـه وکړی دغلیم پـه لمسون
زه د وګـړو پـرګنو کلک پیوستون او وحدتونه غواړم

خلک بـــه درومـــی خپل وطن تـه د پرو هیلـو سره
زه د وطن د لار شهید، د مور د زړه التیامـونـه غـواړم

خلک بــه درومی ننګرهـار تــه د نـرګسـو سیل تــه
زه د نارنجـو په ګلونوکي شاعرغـواړم شعرونه غواړم

خلک بــه درومـــی پکتیا او پکتیکا تـه د اتنو پـه هیلو
زه په لوګرکي د سلام اود بیلتون ښایسته سازونه غواړم

خلک بــه درومی ګل غُنډی تــه د ارغـوان میلـي تـــه
زه له پغمانه خپل آشناته د اوربل سره ګلونه غواړم

خلک بــه درومي مدیني تـه کربلا ته د ثواب پـه طمع
زه پــه غزني کي د پیرانو اولیا و زیارتــونـه غـواړم

خلک دې غــواړي دوعـا ګانې د پيرانـو ملايانـو ځينې
زه لـــه مـزار نه د سخي شاه اوليا نه تاويزونه غــواړم

وطنــه ستا پـــه ويجــاړ شـويــو کــور او کليــو قســـم
په شـهيـدانــو قسم ، دوی تـه لـه خدای جنتونـه غــواړم

د بـل پـه خاوره کې ژونـد ون ، د اسارت ژوندون دی
دوطن مينې په زلفانو يم بندی خلاص زنځيرونه غواړم

که ځوک تپوخ کړي برکت نه چې دی څه غــواړي نور
يم راوتلی ارمـانجن ، دارمانجن زړه ارمانـونـه غــواړم